# خپل ماشومان واکسین کړئ

## د DTAP-IPV-HIB-HB واکسین



**دا واکسین مو د کومو ناروغیو پر وړاندې ساتنه کوي؟ دا شپږو واکسینونو یو دانه ترکیب دی، چې د لاندې ناروغیو په وړاندې ساتنه کوي:**

**ډیپتیریا:** د پوزې او ستوني یو باکتریایي انتان دی چې کولی شي د تنفس یا بلعه کولو ستونزو ترڅنګ د زړه د ناروغیو او فلج (د بدن ټولې یا یوې برخې د حرکت کولو توان له منځه تللو) سبب شي.

**تیټانوس:** یو باکتریا انتان دی چې په عصبي سیستم برید کوي او کولی شي په بدن کې د عضلاتو نه کنټرول کیدونکی سپاسمونه یا شخوالی رامینځته کړي.

**Pertussis (توره ټوخله):** د سږو او هوایی لارو یو باکتریایی انتان دی چې کولی شي د داسی ټوخی لامل شي چې د میاشتو لپاره دوام کولی شي.

**پولیو:** د عصبي سیستم یو وایروسي انتان چې کولی شي د فلج لامل شي.


**د هیموفیلس انفلونزا B ډول (Hib) b:** یو باکتریایی انتان دی چې کولی شي د تنفسي ستونزو او منن‌ژیت (د مغز او نخاعي رګونو د پوښ انتان) لامل شي.

**هپاتیت بی:** د ځیګر یو وایروسي انتان دی چې د ځیګر د خرابوالي (سیرروسس) او په پای کې د ځګر سرطان لامل کیدی شي



**ځوک باید دا واکسین ترلاسه کړي؟** دا واکسین د 2، 4، او 6 میاشتني عمرونو کې د معمول واکسینونو د مهال ویش د یوې برخې په توګه تطبیق کیږي.

**څوک باید دا واکسین ترلاسه نکړي؟** ستاسو ماشوم ممکن دا واکسین په هغه صورت کې ترلاسه نکړي، که چیرې دوی د دې واکسین یا د یوې برخې څخه وروسته جدي حساسیت یا غیر معمولي جانبي عوارض ولري، او روغتیا ستونزې لکه د کمزوري معافیت سیستم درلودل. دا په دی معنی چې ډیری ماشومان په البرټا کې د دې واکسین لپاره وړ یا اجازه لري.



**د دې واکسین جانبي عوارض څه دي؟** جانبي عوارض یې ډیر عادي او لنډمهاله وي او د ستني یا پیچکاري ځای کې سوروالی، پړسوب، خنداء، ژړا، ستړیا، خارښت، تبه، د اشتها ضعیفوالی او داسې نور شامل دي. دد اعراضو د اداره کولو لپاره کولی شو د ستني په ځای کې د یخ یا لوند ټوکر ایښودل، د تبې یا درد سره د مقابلې لپاره د ibuprofen یا acetaminophen په څیر درملو څخه کار واخلو.

---

**که تاسو کومي اضافي پوښتنې لرئ یا غواړئ خپل واکسین واخلئ؟ تاسو کولی شئ:**

- د روغتیایی خدماتو ۸۱۱ شمیري سره اړیکه ټینګه کړي.
- د نوي راغلو خلکو لپاره د خوځبو روغتیا مرکز ته په 587-392-8062 شمیري اړیکه ټینګه کړي.
- د خپل کورنۍ ډاکټر یا د لومړني صحي خدماتو مرکز سره اړیکه ونیسئ.

AIMGA
Alberta International Medical Graduate Association
19 TO ZERO
UNITED AGAINST COVID-19
Financial contribution:
Public Health Agency of Canada
Agence de la santé publique du Canada
ACTION 4 HUMANITY DEVELOPMENT FOUNDATION
CREATING BRIGHTER FUTURE